د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه

کمیته مستقل مشترک نظارت و ارزیابی مبارزه با فساد اداری

Independent Joint Anti-Corruption
Monitoring & Evaluation Committee

# رسنیزه اعلامیه

## له اداري فساد سره د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه د په افغانستان کې د غوره شویو بهرنیو مرستندویه پروګرامونو د پلي کیدو په اړه خپله څېړنه خپروي

**د لړم ۱۷، ۱۳۹۴:** له اداري فساد سره د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې (MEC) نن په افغانستان کې د غوره شویو بهرنیو مرستندویه پروګرامونو د پلي کیدو په اړه خپله څېړنه خپره کړه. په دې رپوټ کې د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې (MEC) په بیلابیلو برخو ، د سړکونو د رغونې او زندانونو له ښه والي نیولې تر روغتیایي خدمتونو او بشردوستانه مرستو پورې، څوارلس پروژې چې د پنځو بیلابیلو تمویلونکو له خوا تمویل شوي څېړلې. د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه (MEC) هیله لري چې تمویلونکو او د افغانستان حکومت ته د یو شمیر ښو او یوشمیر نمګړتیاوو لرونکو مرستندویه پروګرامونو بیلګې وړاندې، او د بهرنیو مرستندویه پروګرامونو په برخه کې له پراخ بحثونو سره مرسته وکړي.

د طالبانو د رژیم له را غورځیدو راهیسې نړیوالو تمویلونکو له افغانستان سره د څه د پاسه ۱۱۹ میلیاردو ډالرو مرسته کړې، څوارلس کاله وروسته اوس هم ډېرى وګړي بشردوستانه مرستو ته ، چې ډېرى د بهرنیو هیوادونو له خوا تمویلیږي، اړتیا لري. دغه اړتیا د حکومتي ادارو د کمزورتیا او عامه لګښتونه له امله ده. په داسې حال کې چې که بهرنۍ مرستې د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې ترمنځ په ښه ډول همغږی، پلان او لګول شوې وای په افغانستان کې به یې په سیمه ایز ژوند کې بسنتیز ښه والی رامنځته کړای وای. د څارنې او ارزونې کمیټې (MEC) په خپلې دې څېړنې کې موندلې چې ډېرى مرستې د افغان لورې د لومړیتوبونو،شرایطو او اړتیاوو په پام کې نیولو په پرتله، د نړیوالې ټولنې د لومړیتوبونو پر بنسټ لګول شوي دي.

د څارنې او ارزونې کمیټې (MEC) لاندنې فکتورونه موندلې چې له بهرنیو مرستو څخه د اغیزمنې ګټې اخیستنې په برخه کې یې خنډونه رامنځه کړي:

- د مرستو د اغیزمنتیا لپاره د یوه ځانګړي شاخص نشتوالی
- د مرستو د وړاندې کولو پیچلتیا
- د پروژو د پرمخ بیولو لپاره لوړ او اضافي لګښتونه
- د افغانستان په وزارتونو کې د وړتیاوو نشتوالی او په دغو ادارو کې د کارکوونکو بدلول
- پراخ اداري فساد
- او بې ثباته امنیتي حالات.

د څارنې او ارزونې کمیټې (MEC) کارکوونکو ددې څېړنې د ترسره کولو لپاره مرکې، د ګردې میزونوله لارې تحقیق،د سندونو تحلیل او له سیمو څخه لیدنې ترسره کړې دي. ځانګړې شوې ټیم له دولتي چارواکو څخه چې د ۱۴ وزارتونو استازیتوب یې کاوه، دمدنې ټولنې له غړو، عادي وګړو، او د څه دپاسه ۳۵ تمویلونکو او د هغوی د پلي کوونکو له همکارانو سره مرکې کړې دي.

پر مرستندویه پروګرامونه د افغانانو دکنټرول د زیاتیدو او له فساد څخه د مالیه ورکوونکو د پیسو د ساتنې په موخه د تمویلونکو له لورې د کنټرول د شته څارنیزو میکانیزمونو ترمنځ د انډول برابرول، له سترو ننګونو څخه شمیرل کیږي. له همدې له فساد سره د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه (MEC) په افغانستان کې د بهرنیو مرستو د لااغیزمنتیا لپاره داسې وړاندیزونه کوي:

- د پراختیایي پالیسی او ستراتیژۍ د رهبرۍ او مدیریت ښه والي
- له ملي لومړیتوبونو سره د مرستندویه پروګرامونو لا همغږي کول او د دولت او تمویلونکو ترمنځ د همغږۍ ډیریدل
- دمرستو د مدیریت په پروسه کې د اداري فساد په وړاندې د زیانمننو کمول
- له سیمه ایزو اړتیاو سره د بهرنیو مرستو لا همغږي کول
- د دولت او تمویلونکو د څارنې او ارزونې په ترتیباتو کې ښه والی
- او د بودجې له لارې د مرستو زیاتیدل

*د لازیاتو مالوماتو لپاره له اداري فساد سره د مبارزې د څارنې او ارزونې له کمیټې (MEC) سره په اړیکه کې شئ:*

*بریښنالیک* [contact@mec.af](mailto:contact@mec.af) *ویب سایت،* [www.mec.af](http://www.mec.af) *فیسبوک* mec.afghanistan